# افغانستان

په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستان څخه د بهرنیو پوځي ځواکونو د وتلو د نېټې له را نږدې کېدو او د واک د ترلاسه کولو لپاره د قدرت پالو د سیالۍ په پیل کېدو سره د افغانستان خلک خورا اندېښمن دي.

دا چې د افغانستان دولت په دې ندي توانېدلی چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي مخه ونیسي، له امله یې د ښځو حقونه چې لا دمخه هم له ګواښ سره مخ ؤ لاهم پسې خنډني شوي دي. همداراز د همدې کال په مارچ میاشت کې د ولسمشر حامد کرزي له خوا د افغانستان د دیني عالمانو د ملي شورا د هغې خبرتیا تایید چې پکښې ویل شوي ؤ چې ښځې تر نارینه ؤ ټیټې دي، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی یواځې هغه مهال منع دی چې دلیل یې غیر اسلامي وي، او ښځې د له نارینه ؤ څخه په ښوونیزو مرکزونو، د کار ځایونو او عام محضر کې جلا شي، د ښځو د ساتنې په اړوند د دولت هوډ او ژمنه تر پوښتنې لاندې راوستله. دغه ګومانونه هغه مهال لا پسې ژور شول چې د عدلیې وزیر هغه د امن خونې چې مظلومې ښځې ورته پناه وړي «د غیر اخلاقي اعمالو او فحشا مرکزونو» په نوم یادې کړې.

د نوي قانون د وضع کولو او په انفرادي ډول د خبریالانو د په نښه کولو له لارې د بیان پر آزادۍ باندې د محدودیتونو د وضع کولو په اړوند د دولت هڅې په ۲۰۱۲ کال کې یوه اندېښنه پاروونکې موضوع وه او په ورته وخت کې د یوه سیاسي ګوند چې د جګړه مارو د محاکمې غوښتنه یې کوله پر وړاندې د دولت شدیدو اقداماتو وښودله چې دولت د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو په درشل کې د سیاسي ګوندونو د تولنو جوړولو د آزادۍ او د بیان د آزادۍ د حقوقو پر وړاندې څه ډول دریځ لري.
د کورنیو وسله واله جګړو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه لوړه پاتې شوه او د سیمه ییزو پولیسو د ناوړه کړنو له امله دغه ځواکونه د انتظار په حالت کې ودرول شول. سربېره پر دې، د روان کال په اوږدو کې پر نړیوالو ځواکونو باندې د افغانو امنیتي ځواکونو د غړو له خوا د بریدونو د زیاتېدو له امله د دغو ځواکونو د ګډو عملیاتو کچه را ټیټه شوه.

د طالبانو له خوا د جګړې له قوانینو څخه سرغړونو دوام وموند، په تېره بیا په دې لړ کې هغه له تفکیکه پرته بریدونه چې پکښې ملکي وګړو ته درنه مرګ ژوبله اووښتي ده د یادونې وړ دي. د امریکا د متحدو ایالاتو د پوځي ماموریت د پای د نیټې د رارسېدو سره بیا هم د افغانستان ډېرې سیمې د طالبانو تر کنترول لاندې پاتې شوې چیرته چې د طالبانو ناوړه چال چلند په تېره بیا د ښځو او نجونو پر وړاندې له پخوا څخه روان ؤ.

**د ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی او توپیر**
پر ښځو باندې د سترو بریدونو لړۍ په ډاګه کړه چې راتلونکې د افغانو ښځو لپاره له ګواښونو ډکه ده. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع کولو قانون، چې په ۲۰۰۹ کال کې تصویب شو، لا هم په خورا کمه اندازه پلی کېږي. هغه ښځې او نجونې چې د جبري ودونو یا کورني زورزیاتي له امله له کور څخه تېښتي ته اړې کېږي ددې پر ځای چې د قربانیانو په سترګه ورته وکتل شي، مجرمیني ګڼل کېږي. د هغو ارقامو پر بنسټ چې د ۲۰۱۲ کال په پسرلي کې خپاره شول، ۴۰۰ ښځې او نجونې له کور څخه د تېښتي یا له خپل خاوند څخه بغیر له نورو سره د جنسي اړیکو د درلودو په تور په محبسونو او دارالتأدیبونو کې بندیانې دي.

د ۲۰۱۱ کال د دسامبر میاشت په وروستیو کې د سحر ګل د خسر خیلو نیول او محاکمه کول، چې دیارلس کلنه سحر ګل یې له دې امله چې د هغوی له غوښتني سره سم فحشا ته یې مخه نه کوله په تل خونه کې بندي او شکنجه کړې وه، په ډاګه کوي چې افغانې نجونې د تاوتریخوالي له سترو ګواښونو سره مخامخ دي.

د شکیلا په نوم د یوې تنکۍ پیغلې د وژنې د حل ناشوې قضیې له امله چې د فبروري په میاشت کې په بامیان کې پېښه شوه په کابل او بامیان کې لاریونونه تر سره شول او د بامیان چارواکو ولسمشر حامد کرزي ته د هغه څه په اړوند چې د حکومتي چارواکو له خوا د وژنې د قضیې پټول ګڼل کېدل، شکایت وړاندې کړ. په جولای میاشت کې د زنا په جرم په پروان ولایت کې په عام محضر کې د یوې ښځې اعدام چې د اعدام د صحنې فلم یې هم خپور شو او تر هغې څه موده وروسته په لغمان ولایت کې د ښځو چارو د رییسې وژنې جوته کړه چې ښځې د قانون له ساتنې او ملاتړ څخه برخمنې ندي.

د پسرلي او دوبي په موسم کې په څو ولایتونو کې په ښځینه ښوونځیو کې د نجونو مسمومولو، چې دولت هغه د نجونو د تحصیل د دښمنانو کار وباله، ښوونځیو ته د تلونکو نجونو او د هغو د کورنیو په زړونو کې وېره پیدا کړه. د نړیوال روغتیایي سازمان یا( دبلیو ایچ او) څېړنو په دې اړوند (ماس هستریا) ته ددغو پیښو د لامل په توګه اشاره وکړه[ماس هستریا (Mass Hysteria) داسې یوه رواني ناروغي ده چې په یوه سیمه کې، لکه د ښوونځي دننه، ګڼ شمېر کسان ورته مرضي اعراض او علایم ښکاره کوي. د مثال په توګه داسې ښکاري چې زده کوونکي مسموم شوي وي خو کله چې د هغو معاینات تر سره شي په وجود کې یې د مسموم کوونکي مادې هیڅ ډول اثرات نه لیدل کېږي - ژباړونکی]. د افغانستان حکومت په دغه اړوند ګڼ شمېر کسان ونیول چې له امله یې د ملګرو ملتونو سازمان په افغان دولت باندې نیوکه وکړه چې له شکمنو کسانو څخه په زور اعتراف اخلي.

**وسله واله جګړه**
د امنیتي مسؤولیتونو د سپارلو لړۍ په چټکۍ سره پر مخ لاړه او نړیوالو ځواکونو د هېواد د ګڼ شمېر پراخو سیمو امنیتي مسؤولیت افغانو امنیتي ځواکونو ته وسپاره. ناټو ادعا وکړه چې په ډېری سیمو کې د

مخالفینو په بریدونو کې زیاتوالی ندی راغلی، په داسې حال کې چې شواهد ښکاروي چې افغان امنیتي ځواکونه په دې ندي توانیدلي چې په نورو سیمو کې، د بامیان ولایت په ګډون چې پخوا یو امن ولایت ؤ، د امنیت ساتنه وکړي. د ناټو د چارواکو په حواله، افغانو امنیتي ځواکونو د شپې د عملیاتو په ګډون په زیاتېدونکې توګه د پوځي عملیاتو مشري په غاړه اخیستې ده.

د افغانستان حکومت د پخوا په شان اوس هم پیژندل شویو جګړه مارانو، د بشر د حقوقو ناقضینو، په فساد ککړو سیاست والانو او سوداګرو ته اجازه ورکوي چې د معافیت تر سیوري لاندې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي، چې په دې توګه د دغه حکومت ولسي ملاتړ ته نور هم تاوان اوړي. د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته د قومي او سمتي کورنیو جګړو د بېرته ګرمېدو د شونتیا د وېرې له امله د رپوټونو پر بنسټ جګړه مارانو یوځل بیا خپل ځواکونه په وسلو سمبال او چمتو کړي دي.

د ملګرو ملتونو د شمېرنې پر بنسټ، د سږ کال په لومړیو شپږ میاشتو کې د ملکی وګړو د مرګ ژوبلې کچه لوړه وه ځرنګه چې ۳۰۹۹ ملکي کسانو ته په یاده موده کې مرګ ژوبله اووښتې وه (۱۱۴۵ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۹۵۴ نور ټپیان شوي دي). دغه شمېر د ۲۰۱۱ کال د لومړیو شپږ میاشتو په پرتله چې په هغې موده کې ۳۶۵۴ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اووښتې وه (۱۵۱۰ مړه او ۲۱۴۴ ټپیان) ټیټه ده. د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاته برخه د طالبانو د هغو بریدونو له امله وه چې پکښې طالبانو د جنګیالیو او ملکي کسانو تر منځ توپیر ندی کړی او یا دا چې په قصدي توګه یې ملکي وګړي په نښه کړي دي.

حکومتي پوځي ځواکونه هم د ملکي وګړو پر وړاندې د ناوړه چلند مسؤل ګڼل شوي دي. په سپټامبر میاشت کې د سیمه ییزو پولیسو، چې د امریکا د متحده ایالاتو په مرسته رامنځ ته شوي، په اړه د اندیښنو له امله د دغو ځواکونو د نویو غړو د روزنې لړۍ په موقتي توګه ودرول شوه او د دغه پروګرام ټول ۱۶۳۰۰ غړي منتظره حالت ته راوستل شول. په داسې حال کې چې د رپوټونو پر بنسټ سیمه ییزو پولیسو د جبري پیسو اخیستلو، وهلو ټکولو، جنسي تیري او د ملکي کسانو د وژولو په ګډون راز راز ناوړه کړه وړه تر سره کړي دي، د متحده ایالاتو او ناټو له خوا د سیمه ییزو پولیسو د اصلاحاتو پروګرام یوازې «د زرغون پر شنو بریدونو» د زیاتېدو په مخنیوي تمرکز کړی دی. دا هغه بریدونه دي چې افغان ځواکونه یې ، چې ښایي د طالبانو اجنټان هم پکښې وي، په خپلو بهرنیو همکارانو/ مشاورینو تر سره کوي.

د می په میاشت کې په غزني ولایت کې د طالبانو پر ضد پاڅونونه (چې ګواکي د طالبانو پر خلاف د ولسونو پاڅونونه ؤ) پیل او نورو ولایتونو ته یې هم لمن وغزېده. دا نظر چې دغه سیمه ییز غبرګونونه کولای شي په سیمو باندې د دولت د حاکمیت په ټینګښت کې مرسته وکړي هله کمزوری شو چې داسې رپوټونه تر لاسه شول چې ښایي په دغو پاڅونونو کې حزب اسلامي چې د طالبانو یو رقیب دی لاس ولري. کله چې په سپټامبر میاشت کې د آیساف قوماندان جنرال جان آلن وویل چې امریکا ښایي پر دغو

ډلو د وسلو پر وېشلو څخه ملاتړ وکړي نو داسې اندېښني پيدا شوې چې ښايي په دغه کار سره به په هېواد کې يوه بله روزل ناشوې، بې دسپلينه او جزايي معافيت لرونکې د مليشو ډله را منځ ته شي.
په ۲۰۱۲ کال کې له طالبانو سره د سياسي حل لارې په موخه خبرو اترو کې کم پرمختګ وشو. داسې رپوټونه خپاره شول چې ګواکې د طالبانو او د امريکا متحده ايالاتو تر منځ لومړنی خبرې اترې چې له ۲۰۱۱ کال څخه را پدېخوا رواني وې د مارچ په مياشت کې هغه مهال له ماتې سره مخ شوې چې د امريکا متحده ايالاتو د طالبانو دغه غوښتنه ونه منله چې لوړپوړې طالب بنديان دې له ګوانتانامو زندان څخه قطر ته ولېږدول شي.

د افغانستان حکومت او ځيني بهرنيو کارپوهانو هڅې چې غوښتل يې له طالبانو څخه داسې يو انځور وړاندې کړي چې ګواکې له ۲۰۰۱ کال څخه راهيسې پکښې د پام وړ اصلاحات راغلي دي، د طالبانو د پرله پسې ناوړه کړو وړو له امله بې اغېزې شوې. د دغو ناوړه کړو وړو په لړ کې کولای شو په مارچ مياشت کې په يوه رستورانت باندې د طالبانو بريد، په مې مياشت کې د هغو له خوا د نويو عملياتو اعلان چې موخه يې د جګپوړو ملکي چارواکو لکه د حکومت لوړپوړو چارواکو، د پارلمان وکيلانو، د سولې د عالي شورا د غړو، قراردادیانو او «ټولو هغو کسانو چې د مجاهدينو پر ضد کار کوي» وژل ؤ، او په اپريل مياشت کې د دغې ډلې امر چې د غزني ولايت ښوونځې بايد وتړل شي - چې په پايله کې يې ځينو ځايي خلکو د طالبانو د دغه دستور پر خلاف پاڅون وکړ - ته اشاره وکړو.

همدارنګه طالبانو پر ښوونځيو باندې خپلو بريدونو او د ځان مرګو بريدونو په ګډون نورو عملياتو لپاره د ماشومانو کارولو ته دوام ورکړ. د ملګرو ملتونو د سازمان د رپوټ له مخې د ۲۰۱۲ کال په لومړيو ۶ مياشتو کې پر ښوونځيو باندې ۳۴ بريدونه تر سره شوي دي (چې په ۶ بريدونو کې يې د ښوونځيو د کارکوونکو يا چارواکو وژل هم شامل ؤ).

په سپټامبر مياشت کې په کابل کې د تاجکانو او هزاره ؤ تر منځ قومي شخړې د فرقه يي تاوتريخوالو په اړه وېرې بيرته را ژوندۍ کړې – هغه شخړې چې په ګاونډي هېواد پاکستان کې په پراخه کچه شتون لري خو په افغانستان کې يې لا تر اوسه په پراخه کچه مخه نيول شوې ده.

**له محبوسينو او نيول شويو کسانو سره ناوړه چلند**
د مارچ په مياشت کې د امريکا د متحدو ايالاتو او افغانستان حکومتونو تر منځ هوکړه وشوه چې امريکايي لوری به تر سپټامبر مياشت پورې د بګرام د زندان، چه هغه مهال د امريکايانو تر اداري لاندې ؤ، مسؤوليت په بشپړه توګه افغاني لوري ته سپاري. دغه کار تر سره شو خو په داسې وضعيت کې چې دواړو لورو پر يوبل باندې تورونه ولګول څرنګه چې امريکايي لوري يو شمېر بنديان افغاني لوري ته ونه سپارل، او په راتلونکې کې د شکمنو کسانو د ساتلو او شکنجه کولو په اړوند د امريکا د ونډې په هکله هم کوم توافق تر لاسه نشو.

د افغانستان او امریکا متحده ایالاتو د دغې هوکړې ځینو مادو د افغانستان حکومت هم مکلف کړ چې د بندي کولو داسې یو اداري سیستم را منځ ته کړي چې له مخې یې د افغانستان حکومت وکړای شي د جګړو اړوند شکمن کسان له کم تور څخه پرته په بند کې وساتي. دغه هوکړه چې په پټه کې شوې وه د افغانستان د قانون جوړوونکو له خوا له نیوکو سره مخ شوه ځکه د هغو په آند د افغانستان له نافذو قوانینو سره یې اړخ نه لګاوه. په هر حال، دواړو حکومتونو پر دې هوکړه وکړه چې د امریکا حکومت کولای شي شاوخوا ۵۰ شکمن کسان چې افغاني تابعیت ونه لري (د دریيمګړو هېوادونو اتباع) تر هغه مهاله پرته له محاکمې څخه په بګرام کې په بند کې وساتي ترڅو چې امریکایي لوری یې د لېږد یا خوشې کولو په هکله تدابیر ونیسي.

دا چې د ۲۰۱۲ کال په جنوري میاشت کې د افغانستان د زندانونو مسؤولیت له عدلیې وزارت څخه واخیستل شو او بیرته د کورنیو چارو وزارت ته وسپارل شو، د بندیانو د شکنجې او نورو ناوړه چلندونو د شونتیا په اړه اندېښنې را ولاړې شوې. دولت په ۲۰۰۳ کال کې د عدلي – قضایي سیستم د اصلاحاتو په لړ کې او د کورنیو چارو وزارت له خوا د بندیانو د ځورونې د مخنیوي لپاره د محبسونو مسؤولیت د کورنیو چارو وزارت څخه اخیستلی او عدلیې وزارت ته یې سپارلی ؤ.

د مارچ په میاشت کې نورې اندېښنې هله را وپارېدې چې د کورنیو چارو وزارت یوه نوي ګومارل شوي د پلچرخي محبس آمر امر وکړ چې د ټولو هغو ښځینه مراجعینو تناسلي غړي باید ولټول شي چې د پلچرخي محبس د بندیانو لیدلو ته راځي.

په سپتامبر میاشت کې، د ولسمشر حامد کرزي له خوا د ملي امنیت د ریاست د ریيس په توګه د اسد الله خالد ټاکلو په ملي او نړیواله کچه وېره را منځ ته کړه. اسد الله خالد چې مخکې یې د غزني او کندهار ولایتونو د والي په توګه دنده تر سره کړې ده د ناوړه کړو وړو په تورونو تورن دئ چې په لړ کې یې د یوه خصوصي غیر قانوني زندان درلودل هم راځي چې نوموړي له ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۰۸ پورې هغه مهال چې د کندهار والي ؤ درلود او ویل کېدل چې پکښې یې زندانیان شکنجه کول. د ملي امنیت ریاست د شکنجې یوه اوږده او ثابته شوې تاریخچه لري.

**د بشر د حقونو مدافعین او انتقالی عدالت**
د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون یو خپلواک دولتی ارګان دی چې په ټوله نړۍ کې د بشر د حقونو د یوه اغیزمن ارګان په توګه ستایل شوی دی. خو له دې سره سره د ۲۰۱۱ کال په دسامبر میاشت کې ولسمشر کرزي د دغه کمیسیون له نهه کمشنرانو څخه درې کمشنران له دندې ګوښه کړل. یاد درې پستونه د دغه رپوټ د لیکنې تر نیټې پورې خالي پاتې ؤ. دغې تشې د بشر د حقونو کمیسیون په اغیزمنه توګه معیوب کړ. د دغه کمیسیون د کمشنرۍ څلورم پست د ۲۰۱۱ کال له جنوري میاشت څخه راپدیخوا خالي دی کله چې د دغه کمیسیون د ماشومانو د حقونو مسؤوله کمشنره د کابل په یوه سوپر مارکیټ کې په بمي چاودنه کې له خپل خاوند او څلورو ماشومانو سره له مینځه لاړه.

ښايي ولسمشر کرزي ددې لپاره د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کميسيون د کمزوري کولو هڅه کړې وي چې د ياد کميسيون د يوې اساسي پروژې بعنې د هغه ۱۰۰۰ مخيزه رپوټ د خپريدو مخه ونيسي چې پکښې په افغانستان کې تر سره شوي د کمونيستي رژيم راهيسي جنګي جرمونه او د بشريت پر ضد جرمونه ثبت شوي دي. دغه رپوټ چې د ۲۰۱۱ کال په دسامبر مياشت کې بشپړ شوی دې، د هغو کسانو د عدلي او قضايي تعقيب د بنسټ په توګه کارېدای شي چې په پخوا دورو کې يې دغه ناوړه کړه وړه تر سره کړي دي.

**د بيان او د ټولنو جوړولو آزادي**

د رسنيو او سياسي ګوندونو د بيان د آزادۍ حق او د ټولنو د جوړولو حق، چې له ۲۰۰۱ کال څخه راپديخوا د بشر د حقونو په ډګر کې د دولت د څو محدودو روښانه برياؤ په نوم يادېږي، په ۲۰۱۲ کال کې په زياتېدونکې بڼه تر ګواښ لاندې راغلل. د مارچ په مياشت کې د افغانستان حکومت له هغو غوښتنو څخه ملاتړ وکړ چې ويل يې پکار دهد هغه سياسي ګوند فعاليتونه په ټپه ودرول شي او محاکمه شي چې هغه لاريون يې سپانسر کړی ؤ چې ويل يې د جګړې مجرمين چې ځيني يې همدا اوس دولتي چارواکي دي بايد محاکمه شي. د افغانستان حکومت په پرله پسې توګه خبريالانو ته ګواښونه کړي دي. په اپريل مياشت کې يو خبريال پرته له کوم اتهام څخه هغه مهال ونيول شو چې په يوه ټلويزيون کې يې داسي خپرونه خپره کړه چې پکښې د کابل پر ښاروال باندې نيوکي شوې وې.

د مي په مياشت کې حکومت هغه مهال پر يوې بهرنۍ خبريالې باندې د جاسوسۍ تور ولګاوه چې هغې د افغانستان حکومت په فساد تورن کړ، خو د دغې خبريالي پر ضد يې بل کوم اقدام ونکړ. همدا راز حکومت په نوامبر مياشت کې د کړکيچ د نړيوالي ډلي د يوه رپوټ پر ضد سخت غبرګون ښکاره کړ او وې ويل چې «د دغې ډلې فعاليتونه د افغانستان ملي ګټو ته تاوان رسوي» او زياته يې کړه چې «په هېواد کې د کړکيچ د نړيوالي ډلي کړنې تر څارنې لاندې نيول کيږي».

په جون مياشت کې حکومت د رسنيو د قانون يوه نوې مسوده جوړه کړه چې پکښې د داسې تدابيرو يادونه شوې چې پر رسنيو باندې د حکومت کنترول په ډراماتيکه توګه زياتوي. د يادو تدابيرو ځيني بېلګې لاندې ذکر کيږي: د رسنيو سرغړونو ته د رسيدګي د يوه حکومتي بنسټ جوړول، د رسنيو د «سرغړونو» د يوه اوږد لړليک جوړول چې پکښې د بهرنيو پروګرامونو پر خپرولو محدوديت وضع شوی او په ټول هېواد کې د رسنيو سرغړونو ته د رسيدګۍ په موخه د ځانګړو محکمو او څارنواليو د جوړېدو خبره شوې ده. د ياد قانون دغه مسوده د خبريالانو د کلک غبرګون له امله په پراخه کچه تعديل شوه خو په اکتوبر مياشت کې د رسنيو د معيارونو د نوې کميټې جوړېدو داسې اندېښنې را وپارولې چې ګواکې حکومت د رسنيو د فعاليتونو د محدودولو لپاره يوه نوې لار غوره کړې ده. په سپټامبر مياشت کې د رسنيو کميسيون لوی څارنوالی ته امر وکړ چې د دوه افغاني رسنيو په هکله چې د «غير اخلاقي» خپرونو په خپرولو يې تورنې کړې وې پلټنې وکړي.

**نړیوال کلیدي لوبغاړي**

د افغانستان په اړوند د نړیوالې ټولنې ناواضحه او مغشوش دریځ په ۲۰۱۲ کال کې د دغه هېواد د بشر په حقوقو باندې ناوړه اغیزه وکړه په تېره بیا له دې امله چې د افغانستان پر حکومت باندې د بنځو د حقونو د درناوي په اړوند د نړیوالې ټولنې فشار کم شو. سره له دې چې یو شمېر هېوادونو هڅې کړي چې له افغانستان سره د اوږدمهالو همکاریو سندونه لاسلیک کړي، او د افغانستان په اړه د ۲۰۱۲ کال د توکیو په کنفرانس کې هم له دغه هېواد سره د مرستو او همکاریو ژمنې وشوې خو په افغانستان کې د بشر د حقونو د ملاتړ په ډګر کې نړیوالې ژمنې هومره جزیات او تفصیلات نه لري چې باید یې ولري.

دیپلوماتان د ترلو دروازو تر شا مني چې له افغانستان سره په لوړه کچه د مرستو لیوالتیا اوس په ګړندۍ توګه د کمېدو په حال کې ده، او دا چې په ۲۰۱۴ کال کې بهرني پوځي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي د دغه هېوادونو بنکیلتوب په افغانستان کې د سیاسي فشار اچولو او مرستو د ورکولو په ډګرونو کېلا هم پسې کمېږي. د نړیوالو مرستو د کمېدلو له امله لا له پخوا څخه د ځینو ښوونځیو او کلنیکونو د ترل کېدو لړۍ پیل شوې ده.

د نړیوالې جزایي محکمې څارنوالان د افغانستان په اړه په خپلو لومړنیو څېړنو بوخت دي. له ۲۰۰۷ کال څخه راهیسې یاده محکمه په افغانستان کې د یو شمېر جرمونو د ادعاګانو په اړه څېړنې کوي چې د شکنجې، د جګړې لیکو کې د ماشومانو استخدامولو، په بشرپاله ارګانونو او د ملګرو ملتونو پر څانګو باندې د بریدونو او پر هغو اهدافو او مکانونو باندې د بریدونوجرمونه پکښې شامل دي چې د نړیوال قانون له احکامو سره سم خوندیتوب لري او پوځي ځایونه نه بلل کېږي.